اونیزه مجله :347
WEEKLY BOOKLET:347

تقريباً ۲۲ کاله مخکښيني بيان

# د سندرو تباهي

(PASHTO)



- يو قوم شادوګان او خنزيران جوړ کړے شول
- سندره په زړۀ کښې منافقت پيدا کوي
- د سندرو اوريدو نقصانونه
- که د سندرو اوريدو عادت وي نو څنګه ختميدے شي؟


شیخ طریقت امیراهل سنت د دعوت اسلامی بنسټګر حضرت علامه مولانا ابو بلال

محمد الیاس
عطار قادری رضوی دامت برکاتہم العالیہ

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# د سندرو تباهي [1]

دُعائے خلیفۂ امیرِ اهلِسُنَّت: یا رَبَّ الـمصطفٰے! څوک چې دا رساله "**د سندرو تباهي**" ولولي یا واوري، هغۀ ته د فلمونو ډرامو کتو او د سندور اوریدو نه د بچ کیدو توفیق عطا کړې او هغۀ سره د موره او پلاره بے حسابه اوبخښې.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم

## د دُرُود شریف فضیلت

د خوږ آخري نبي صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم فرمان مبارک دے: کوم ګس چې د جُمعې پۀ ورځ پۀ ما باندې 100 کَرَته دُرُودِ پاک ولولي چې کله هغۀ د قیامت پۀ ورځ باندې راځي نو د هغۀ سره به یو داسې نُور وي چې که هغه پۀ ټول مخلوق باندې تقسیم کړے شي نو د ټولو د پاره به کافي شي. (حلیة الاولیاء، 48/8، حدیث: 11341)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د سندرې او شرابو وبال

حضرت علّامه عبدُ الرّحمان اِبنِ جوزي رحمۃ اللہ علیہ پۀ خپل کتاب "**ذَمُّ الهَوىٰ**" کښې نقل کړي دي چې د یو ګس بیان دے چې یوه شپۀ ما پۀ خوب کښې ولیدل

[1] د عاشقانِ رسول د دیني تحریک دعوتِ اِسلامي د باني امیر اهلسنّت دامت برکاتہم العالیہ شوي مختلف آډیو بیانونه پۀ لیکلي شکل کښې د "**فیضانِ بیاناتِ عطار**" پۀ نوم مکـتبة الـمدینه (اِسلامک ریسرچ سنټر) د شعبه "**بیاناتِ امیرِ اهلِسُنَّت**" له خوا د ترمیم او زیاتوالي سره وړاندې کړے شول- اَلْحَمْدُلِلّٰہ الکریم! پۀ هُغه بیانونو کښې اوس شعبه "**هفته وار رساله مطالعه**" یو بیان "د سندرو تباهي" د رسالې پۀ شکل کښې پیش کوي-

چې زما د کور په خوا کښې چې کومه هديره ده د هغې مړي د خپلو خپلو قبرونو نه راوځي او په يو ځائے کښې راجمع کيږي تر دې چې د ټولو قبرونو والا يو ځائے ته راجمع شول، د هغې نه پس هغوئي ژړا فرياد شروع کړو او په ژړا ژړا يـې د الله پاک په بارګاه کښې فرياد کولو چې اے الله! کومه فلانکۍ زنانه چې سحر مړه شوې ده چې هغه زمونږه په هديره کښې دفن نشي! اے الله! مونږه د دې بے عمله زنانه د شر نه بچ کړې! خوب ليدونکے صاحب وائي چې ما چې د هغوئي ژړا فرياد واوريدو نو د يو مړي نه مې پوښتنه وکړه: تاسو دا دُعا ولې کوئ؟ هغۀ ووئيل: کومه زنانه چې نن وفات شوې ده هغۀ دوزخي ده لهٰذا که هغۀ چرې زمونږه په هديره کښې دفن کړے شوه نو د هغې د عذاب د ليدو په وجه به مونږ په تکليف کښې يو ځکه مونږ ژړا فرياد کوو او د الله پاک نه سوال کوو چې ﻫغه زنانه زمونږه په هديره کښې دفن نشي. خوب ليدونکے صاحب وائي چې دا مې واوريدل نو زما سترګې وغړيدلې او په دې تَکل کښې شوم چې څۀ به کيږي؟ نو زۀ د هديرې په لور روان شوم او هلته مې وکتل چې قبر کنستونکو يو قبر کنستے دے. ما د هغوئي نه پوښتنه وکړه چې تاسو دا قبر د چا د پاره جوړ کړے دے؟ هغوئي ووئيل چې د يو مالداره سړي ښځه مړه شوې ده د هغې د پاره مو قبر جوړ کړے دے. ما چې قبر کنستونکو ته د شپې ليدلے شوے خوب بيان کړو نو هغوئي قبر بند کړو. لا لږ وخت تير شوے وو چې يو څو ګسان راغلل او د قبر کنستونکو نه يـې پوښتنه وکړه چې آيا قبر تيار شوے دے؟ قبر کنستونکو جواب ورکړو چې دلته به قبر نۀ تياريږي. د قبر کنستونکو جواب يـې چې واوريدو نو ﻫغه ګسان د بَل ځائے په قبر کنستونکو پسې لاړل. هلته هم د خوب والا خبره رسيدلې وه نو ځکه د ﻫغه ځائے خلقو هم د قبر کنستو نه انکار وکړو. بيا هُغه ګسان يوې بَلې هديرې ته لاړل او هغوئي هلته قبر تيار کړو. په بَله هديره کښې د قبر کنستو نه پس د جنازې راوړو انتظار کيدو، په دې کښې

شور شو چې جنازه راغله نو زۀ هم د هغې زنانه د جنازې راوړونکو خوا له لاړم، د جنازې سره ډېر خلق راروان وو، ما پۀ جنازې پسې شاته يو ښکلے ځلمے وليدو نو د خلقو نه مې د هغۀ پۀ باره کښې پوښتنه وکړه چې دا څوک دے؟ ما ته ووئيلے شو چې دا د هغه مړې يعنې د مړې شوې زنانه ځوي دے. د ەغه ځلمي پلار هم د هغۀ سره وو او خلقو د هغه دواړو سره لاس نيوه کوله. خوب ليدونکے صاحب وائي چې کله ەغه زنانه دفن کړے شوه نو زۀ د هغه دواړو پلار او ځوي خوا له ورغلم او هغوئي ته مې ووئيل چې ما د شپې يو خوب ليدلے دے که اجازت وي چې بيان يـې کړم؟ د هغې زنانه خاوند جواب راکړو چې ما ته د خوب بيانولو ضرورت نشته او داسې هغۀ زۀ منع کړم خو د هغۀ ځلمي ځوي ووئيل چې تاسو ما ته خوب بيان کړئ. ما هغۀ ځلمے د خلقو نه يوې ډډې ته کړو او هغۀ ته مې خپل خوب بيان کړو. بيا ما هغۀ ځلمي ته ووئيل چې ګوره! قبر والوو الله پاک ته پۀ ژړا ژړا سوالونه کړي دي چې ستاسو مور د هغوئي پۀ هديره کښې دفن نشي لهٰذا ما ته د خپلې مور د اعمالو پۀ باره کښې ووايئ. هغۀ ووئيل چې زما مور به شراب څښل، سندرې سازونه به يـې اوريدل او پۀ نورو زنانۀ باندې به يـې بهتان [يعنې تور] لګولو. ما ته د خپلې مور پۀ باره کښې هم دومره پته ده که چرې نوره څۀ پوښتنه کول غواړې نو زمونږ پۀ کور کښې يوه بوډۍ خادِمه ده چې عمر يـې 99 کاله دے هغې به زما د مور خدمت کولو، تاسو زما سره لاړ شئ او د هغې نه پوښتنه وکړئ کيدے شي چې داسې درته زما د مور نور اعمال هم معلوم شي. خوب ليدونکے صاحب وائي چې زۀ د ەغه ځلمي سره د هغوئي کور ته لاړم او ما هغې بوډۍ زنانه ته خپل خوب بيان کړو او د هغې وفات شوې زنانه د ځوي نه حاصل شوي معلومات مې ورته بيان کړل او پوښتنه مې وکړه چې تاسو نور څۀ معلومات راکولے شئ؟ بوډۍ پۀ ژړا شوه او ما ته يـې ووئيل چې الله پاک دې وفات شوې زنانه اوبخښي هغۀ ډېره ګنهګاره وه او بيا هغې بوډۍ ما ته د

وفات شوې زنانه نور ګناهونه بیان کړل. (ذم الھویٰ، ص:309)

خورو او محترمو اِسلامي ورونو! په دې واقعه کښې زمونږ د پاره ډېر عبرت دے. مونږ له هم خپل مرګ ته پام کول پکار دي او د خپلو ګناهونو احتساب کول پکار دي. اوګورئ! د هغې زنانه درې ګناهونه بیان کړے شول چې هغې به شراب څښل، سندرې سازونه به یې اوریدل او بهتان [یعني تورونه] به یې لګول. د بده مرغه په مسلمانانو کښې شراب څښل عام کیږي، نارینؤ او زنانؤ شراب څښل شروع کړې دي، خاص طور د اوچتې سوسائټۍ سره تعلق لرونکو کښې مَعَاذَالله! د شراب څښلو او سندرو سازونو اوریدو په شان بدۍ زیاتیږي. یاد ساتئ چې شراب اُمُّ الخَبَائِث یعنې د ګناهونو مور ده. (صحیح ابن حبان، 367/7، حدیث: 5324 ملخصاً) ځکه چې د دې په وجه انسان په ډیرو ګناهونو کښې اخته کیږي. د دې واقعې نه دا هم معلومه شوه چې کله د هدیرې عامو مړو ته د دې غیبي خبر پته ولګیده چې یوه زنانه مړه شوې ده، د هغې مړے به د دفن کولو د پاره راوړے کیږي او هغې له به عذاب هم ورکولے شي نو بیا به اولیائے کرام رحمۃ اللہ علیھم، انبیائے کرام علیھم السلام او خاص طور د دواړو جهانونو مالِک او مُختار، د نبیانو سردار صلی اللہ علیہ والہ وسلم د الله پاک په عطا سره د غیبو نه خبر ولې نه وي! چې کله زما خوږ آقا صلی اللہ علیہ والہ وسلم د معراج په شپه د سر په سترګو، په ویخه د الله پاک دیدار وکړو کوم چې غیبُ الغیب دے نو بیا د غیبو نور خیزونه څنګه د هغوئې صلی اللہ علیہ والہ وسلم نه پټ پاتې کیدے شي. د عاشقانو اِمام، اِمام احمد رضا خان رحمۃ اللہ علیہ د سرکارِ عالي وقار، د مدینے د تاجدار صلی اللہ علیہ والہ وسلم نعت بیانوي او په بارګاهِ رسالت کښې عرض کوي:

اور کوئی غیب کیا تم سے نِہاں ہو بھلا　　　جب نہ خُدا ہی چُھپا تم پہ کروڑوں دُرود

(حدائقِ بخشش، ص:264)

خورو او محترمو اِسلامي ورونو! د هغې زنانه یو جُرم دا وو چې هغې به سندرې

سازونه اوريدل. نن سبا سندرې سازونه دومره عام شوي دي چې هر يو کور ميوزک سنټر جوړ شوے دے، کوم يو کور داسې دے چې پۀ هغې کښې سندرې او سازونه نۀ غږيږي. اوس خو انټرنيټ هم د مسلمانانو کورونو ته ننوتے دے د کوم پۀ ذريعه چې د ټولې دنيا فلمونه کتلے کيدے شي او حالت دا دے چې که څوي د انټرنيټ پۀ ذريعه فحش فلمونه ګوري نو مور پلار ته يې هډو پته نه لګي، داسې انټرنيټ ډير زيات د تباهۍ ذريعه ده. اګرچې د انټرنيټ مُثبت (يعنې ښه) اړخونه هم شته مثلاً د مُبَلِّغينِ دعوتِ اِسلامي د سُنَّتو ډک بيانونه هم د انټرنيټ پۀ ذريعه پۀ ډيرو ملکونو کښې اوريدے او کتے شي خو زياتره خلق د انټرنيټ پۀ ذريعه ګناه کوي.

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اِسلامي د انټرنيټ د ښه اړخ نه فائدې حاصلوي.

## د سندرو سازونو تباهي

د سندرو سازونو تباهي ډيره زياته ده او پۀ قرآن او حديث کښې د دې مذمت [يعنې غندنه] شوې ده، پۀ 21 سيپاره سُورۀ لُقمان، 6 نمبر آيت کښې الله پاک ارشاد فرمائي:

وَ مِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْتَرِيْ لَهْوَ الْحَدِيْثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۖۗ وَّ يَتَّخِذَهَا هُزُوًا ؕ اُولٰٓىِٕكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ۝۶ (پارہ: 21، سورۂ لقمان، آیت نمبر: 6)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او بعضې خلق د لوبيدلو خبرې [په بيعه] اخلي د پاره د دې چې بے پوهې د الله د لارې نه بے لارې کول اوکړي او د هغې نه ټوقې ټقالې جوړې کړي. د هغوئې د پاره د ذِلّت عذاب دے.

د دې آيت مبارک لاندې پۀ تفسيرِ صِراطُ الجنان کښې دي: دا آيت د نَضر بن حارِث بن ګلَده پۀ باره کښې نازل شو کوم چې به د تجارت لړ کښې د نورو ملکونو

سفر کولو. هغۀ د عجمي خلقو د قيصو کتابونه اخستي وو او ﻫغه قيصې به يــې قريشو ته کولې چې مُحَمَّد (صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) تاسو ته د عاد او ثمود واقعې بيانوي او زۀ تاسو ته د رُستم، اَسفنديار او د اِيران د بادشاهانو قيصې بيانووم. بعضې خلق پۀ ﻫغه قيصو کښې مشغول شول او د قرآنِ پاک اوريدل يــې پريښودل نو پۀ دې باندې دا آيت مبارک نازل شو او اِرشاد ووفرمائيلے شو چې بعضې خلق د لوبو خبرې اخلي د پاره د دې چې د جهالت پۀ بنياد خلق اِسلام ته د داخليدو او د قرآنِ کريم د اوريدو نه منع کړي او د الله پاک پۀ آيتونو پورې ټوقې وکړي، د داسې خلقو د پاره د رسوايۍ عذاب دے. لَهو يعنې لوبې، هر هغه باطِل ته وئيلے شي کوم چې انسان د نيکۍ او د کار د خبرو نه پۀ غفلت کښې وساتي. پۀ دې کښې بے مقصده او بے اصله او د دروغو قيصې او افسانې، جادو، ناجائزه لطيفې او سندرې سازونه وغيره ټول شامل دي. داسې قِسمه د لَهو و ولَعِب آلات (يعنې ﻫغه سامان د کوم پۀ ذريعه چې دا کار کيدے شي د هغې) خرخول هم منع دي او اخستل يــې هم جائز نه دي ځکه چې دا آيت هم د ﻫُغه اخستونکو د بدو بيانولو پۀ باره کښې نازل شوے دے. داسې د ناجائزه ناول، د خرابو رسالو، د سينما د ټکټونو، تماشو وغيره د اَسبابو، د ټولو اخستل او خرخول منع دي چې دا ټول د "لَهوَ الحَدِيث" يا د هغې ذريعې دي. پۀ دې آيت کښې د "لَهوَ الحَدِيث" پۀ باره کښې د نومورِو مُفسِرينو يو قول دا دے چې د دې نه مُراد سندرې سازونه دي او دا آيت علمائے کرامو د سندرو سازونو د حراميدو د دليل پۀ طور بيان کړے دے.

(تفسيرِ صراط الجنان، 474/7، ملتقطاً)

## ما ته د موسيقۍ د آلاتو او د سازونو ختمولو حکم راکړے شو

د مدينے منورې د سرکار، د مکے مکرمې د سردار صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: الله پاک زۀ د ټولو جهانونو د پاره د رحمت او هدايت جوړولو سره راليږلے يم، ما ته يــې پۀ خُله او پۀ لاس د غږيدونکو د موسيقۍ د آلاتو او سازونو ختمولو

حکم کړے دے او د دغه بُتانو د ختمولو حکم يې فرمائيلے دے د کومو چې به د جهالت په زمانه کښې عبادت کيدو. زما رَبّ د خپل عزت د قَسم يادولو سره ووفرمائيل: زما په بندګانو کښې چې چا يو ګوټ شراب وڅښل په هغهٔ باندې به د هغې په بدل کښې د دوزخ جوش وهونکې اوبه څښم، که هغهٔ ته عذاب وشي او که اوبخښلے شي او کوم کَس چې په يو ماشوم باندې شراب وڅښي، په هغهٔ څښوونکي باندې به هم جوش وهونکې اوبه څښم او د سندرو ويونکو زنانو اخستل او خرڅول او د سندرو تعليم او تجارت او د دې قيمت حرام دے.

(مسند امام احمد، 286/8، حديث: 22281)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! غور وکړئ چې مونږ د کوم خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم سره محبت کوو هغوئي ته د هغوئي خوږ الله پاک د موسيقئ د آلاتو يعنې د ډولونو، طَبلو، باجو او شپيلو وغيره د ختمولو حکم فرمائيلے دے خو نن سبا ډيرو مسلمانانو نارينؤ او زنانؤ د دې سپيرو آلاتو نه د زړهٔ دُنيا جوړه کړې ده. آه! زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم د موسيقئ آلات ختمول غواړي خو د هغوئي سره تش په نوم محبت کوونکو کوڅه په کوڅه ميوزک سنټرې پرانستې دي، نهٔ نهٔ بلکې نن سبا خو د مسلمانانو اکثر کورونه ميوزک سنټرې جوړې شوې دي. په دې حديثِ پاک کښې د شرابيانو د پاره هم عبرت دے چې په هغوئي باندې به د دوزخ جوش وهونکې اوبه څښلے شي کومې چې به دومره خطرناکې وي چې څنګه به دوئي جام خُلې ته نزدې کړي د هغې د تاؤ په وجه به د خُلې خرمن وِيلې شي او جام ته به پريوځي او بيا چې کله دا اوبه خيټې ته اورسي نو تباهي به وکړي تر دې چې کولمې به ټوټې ټوټې کړي او دا به د ډَکو مِتيازو په ځائے بهر وباسي. (ترمذي، 262/4، حديث: 2592 ملخصاً)

کرلے توبہ رب کی رحمت ہے بڑی قبر میں ورنہ سزا ہو گی کڑی

## زما د اُمَّت يو قوم به شادوګان او خنزيران جوړولے شي!

د رَسولانو د سالار، د نبيانو د سردار صلّی اللہ علیہ وآلہٖ وسلّم فرمان مبارک دے: پۀ آخرى زمانه کښې به زما د اُمَّت يو قوم مَسخ کړے شي او شادوګان او خنزيران به ترينه جوړ کړے شي، صحابۀ کرامو علیہم الرضوان عرض وکړو: يَا رَسُولَ الله صلّی اللہ علیہ وآلہٖ وسلّم! تر دې که هغوئي د دې خبرې ګواهي ورکوي چې تاسو د الله پاک رسول يئ او د الله پاک نه علاوه څوک هم د عبادت لائق نشته. اِرشاد يې ووفرمائيلو: آؤ تر دې که هغوئي نمونځونه کوي، روژې نيسي، حجونه کوي (يعنې که هغوئي مسلمانان ولې نه وي نو اے نمونځونو کوونکو! تاسو هم واورئ! اے روژو نيوونکو! تاسو هم واورئ! اے حاجيانو! تاسو هم واورئ! که مَعَاذَالله! سندرې سازونه مو واوريدل نو څۀ سزا به ميلاويږي؟ پۀ بارګاهِ رسالت کښې) عرض وکړے شو: يَا رَسُولَ الله صلّی اللہ علیہ وآلہٖ وسلّم! د هغوئي جرم به څۀ وي؟ اِرشاد يې ووفرمائيلو: هغوئي به د زنانؤ سندرې اوري، سازونه به غږوي او شرابونه به څښي پۀ دې لَهو ولَعِب (يعنې لوبو تړقو) کښې به وخت تيروي او سحر به ترينه شادوګان او خنزيران جوړ کړے شي. (عمدۃالقاری، 593/14)

دغه شان پۀ يو بَل حديثِ پاک کښې دي: زما پۀ اُمَّت کښې به پۀ زمکه کښې د ننوتو، د کاڼو راوريدو او د شکلونو د مَسخ کيدو واقعات کيږي. پۀ مسلمانانو کښې يو کَس عرض وکړو: دا به کله وي؟ اوئې فرمائيل: چې کله سندرې ويونکې زنانه او د سندرو سامان ظاهر شي او شراب څښلے کيږي. (ترمذي، 90/4، حديث:2219)

## سندره پۀ زړۀ کښې منافقت پيدا کوي

د خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صلّی اللہ علیہ وآلہٖ وسلّم فرمان مبارک دے: اَلْغِنَاءُ يُنْبِتُ النِّفَاقَ فِي الْقَلْبِ كَمَا يُنْبِتُ الْمَاءُ الزَّرْعَ يعنې سندره پۀ زړۀ کښې داسې منافقت پيدا کوي لکه څنګه چې اوبه فصل رازرغونوي. (شعب الايمان، 279/4، حديث:5100)

## د قيامت پهٔ ورځ به پهٔ غوږونو کښې ويلې شوې اوسپنه اچولے شي

د مدينے منورې د سرکار، د مکے مکرمې د سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: مَنْ قَعَدَ اِلٰى قَيْنَةٍ يَسْتَمِعُ مِنْهَا صَبَّ اللّٰهُ فِىْ اُذُنَيْهِ الْآنُكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يعني چې کوم کَس د سندرې اوريدو د پاره د چا سندرې ويونکې سره کښيناستو، الله پاک به د قيامت پهٔ ورځ د هغهٔ پهٔ غوږونو کښې وِيلې شوې اوسپنه اچوي. (ابنِ عساکر، 263/51)

## سندره اوريدل څنګ دي؟

اعلیٰ حضرت اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د مَزامير (يعنې د موسيقۍ د آلاتو) سره سندره وئيل او د هغې اوريدل دواړه حرام دي. (فتاوٰی رضويه، 107/8) هم دغه شان سندره غږول بلکې د سندرې اواز د رغبت سره اوريدل پهٔ زړهٔ کښې داسې نفاق پيدا کوي لکه څنګه چې د اوبو بهيدل ګيا [راټوکوي] . (مرأة المناجيح، 428/5)

## د سندرو اوريدو نقصانونه

(1): سندرې اوريدل د الله او د رَسول ناراضه کوونکے کار دے. (2): د سندرو اوريدو سره رُوح کمزورے کيږي. (3): د سندرو اوريدو سره زړهٔ توريږي. (4):سندرې اوريدل د کامِل مسلمان جوړيدو پهٔ لار کښې خنډ دے. (5): د سندرو اوريدو سره خراب شهوت او غلط خيالونه پهٔ زړهٔ کښې پيدا کيږي. (6): د سندرو اوريدو سره د اِنسان ذهن تير وځي او هغه پهٔ غلطو لارو سر کيږي. (7): د سندرو اوريدو سره انسان پهٔ مجازي عشق کښې اخته کيږي او آخر خرابيږي. (8): د سندرو اوريدو سره ډپريشن زياتيږي او انسان نا اُميده کيږي. (9): د سندرو اوريدو پهٔ وجه د انسان پهٔ طبيعت کښې جذباتي او اِحساساتي حالت پيدا کيږي چې کله نا کله انسان د خودکشۍ پهٔ لور هم بوځي. (10): د سندرو اوريدونکو د غوږونو پردې هم متاثره

کيږي او د قيامت په ورځ به د هغوئي په غوږونو کښې وِيلې کړے شوې اوسپينه هم اچولے شي. (11): نن سبا په سندرو کښې داسې د کُفر الفاظ هم وي د کومو د وئيلو سره چې انسان د اِيمان نه خلاصيږي او دا د ټولو نه لوئي نقصان دے.

## آه! نن سبا زمونږه په معاشره کښې موسيقي عامه شوې ده

آه! نن سبا زمونږه په معاشره کښې موسيقي عامه شوې ده او په هر څيز کښې د موسيقۍ سُرونه اوريدے کيږي، تاسو که بس، ويګن، هوائي جاز او ائير پورټ وغيره هر ځائے ته لاړ شئ نو تقريباً په هر ځائے کښې به موسيقي وي. تر دې که تاسو په ريډيو يا ټيلي ويژن د قرآنِ پاک تلاوت هم اوريدل غواړئ نو د تلاوت د وخت شروع کيدو نه مخکښې به د موسيقۍ ساز غږولے شي. هم داسې په موبائل فون کښې هم د موسيقۍ ټيون وي او دا دومره عام شوے دے چې بعضې وخت په ظاهره مذهبي په نظر راتلونکي خلق هم په خپل موبائل فون کښې د موسيقۍ والا ټيون لګوي. ياد ساتئ! چې کوم ساده رِنګ وي هغه موسيقي نه ده.

## د موسيقۍ نه د بچ کيدو طريقه

په داسې حال کښې د موسيقۍ نه د بچ کيدو طريقه دا ده چې انسان چرته موسيقي بياموي هغهٔ ختموي مثلاً په خپله ګړۍ کښې يې بياموي نو د ګړۍ ټيون دې بدل کړي،که په خپل ګاډي يا موبائل فون کښې يې بياموي نو هغهٔ دې بدل کړي، که بدلول يې ممکن نه وي نو ټيون دې بند کړي نو داسې چې په کوم کوم ځائے کښې د موسيقۍ نه بچ کيدل ممکن وي د بچ کيدو کوشش دې وکړي. ياد ساتئ! د موسيقۍ والا سندرې اوريدل ګناه ده بلکې که د کوم ځائے نه د دې اواز راځي نو د هغه ځائے نه تلل او د نهٔ اوريدو پوره کوشش ضروري دے، حضرت علّامه شامي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: رقص کول، ټوقې مسخرې کول، پړقې وهل، د سِتار غږول،

بَربَط [يعنې يو قِسم له سرينده د کومې شکل چې د بَطې په شان وي]، سرينده، رَباب، شپيلۍ، ګونګري، بِګل غږول، مکروهِ تحريمي (يعنې حرامو ته نزدې) دي ځکه چې دا ټولې د کافرانو طريقې دي، د شپيلۍ او نورو سازونو اوريدل هم حرام دي، که ناڅاپهٔ يـې واوريدل نو معذور دے او پهٔ دهٔ باندې واجب دي چې د نهٔ اوريدو يـې پوره کوشش وکړي. (ردالمحتار،651/9)

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! چې ځنګه د موسيقۍ اواز راشي نو پهٔ ممکن صورت کښې فوراً پهٔ غوږونو کښې ګوتې ورکول او د هغه ځائے نه لرې تلل پکار دي. که پهٔ غوږونو کښې مو ګوتې ورکړې خو بيا هم اودريدۍ يا کښيناستۍ يا معمولي شان ورنزدې شوۍ نو د موسيقۍ د اواز نه به بچ نه شۍ. خير که پهٔ غوږونو کښې ګوتې ورنکړۍ خو بيا هم پهٔ څهٔ طريقه د موسيقۍ د اواز نه د بچ کيدو پوره کوشش کول لازمي دي.

آه! آه! آه! اوس خو پهٔ سيارو، جازونو، کورونو، دکانونو، هوټلو، لارو، کوڅو او بازارونو کښې چې چرته هم ځې موسيقي اوريدے شي. پهٔ کوم هوټل کښې چې سندرې او فلمونه لګيدلي وي هلته د خوراک څښاک، چائے څښلو وغيره نه بچ کيدل پکار دي. پهٔ بعضې ځايونو کښې بنده د موسيقۍ نه نشي بچ کيدے مثلاً پهٔ هوائي جاز کښې روان وي نو هغهٔ نشي بچ کيدے ځکه چې پهٔ هغه ځائے کښې موسيقي بندول د هغه د وَس کار نه دے، دغه شان بعضې وخت د منع کولو باوجود هم د بَس ډرائيور نه منع کيږي او هغهٔ سندرې سازونه غږوي.

## پوهه کوه چې پوهه کول مسلمانانو له فائده ورکوي

ياد ساتئ! د بس ډرائيوران پهٔ پوهه کولو سندرې سازونه بندوي لهٰذا ډرائيوران پهٔ مينه او محبت سره پوهه کوئ، د سندرو او سازونو پهٔ ځائے ورته د سنَّتو د ډکو

بیانونو لګولو ترغیب ورکوئ او د هغوئي دې اړخ ته ذهن راګرځوئ چې که تاسو د سندرو سازونو په ځائے د سنّتو ډک بیان لګوئ نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! په ګاډي کښې موجود چې څومره هم مسلمانان يې اوري د هغې ثواب به تاسو ته هم میلاویږي نو د داسې پوهه کولو سره به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! فائده وي. اوګورئ! مونږ ته په قرآنِ کریم کښې هم د پوهه کولو حکم راکړے شوے دے. په 27 سیپاره، سورۂ ذٰرِیٰت، آیت نمبر 55 کښې الله پاک اِرشاد فرمائي:

﴿وَّ ذَكِّرْ فَاِنَّ الذِّكْرٰى تَنْفَعُ الْمُؤْمِنِیْنَ﴾ [مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او پوهه کوه ئې ځکه چې پوهول ایمان والؤ ته فائده ورکوي. (پاره: 27، سورۂ ذٰرِیٰت: آیت: 55)

دغه شان چې په کوم کور کښې د چا خبره منلے کیږي هغوئي دې د خپل کور والؤ دا ذهن جوړ کړي چې ګوره! د سندرو سازونو اوریدو سره عارضي طور څۀ لږه شان مزه حاصلیږي خو په دې کښې ګناه ده ځکه د دې مزې نه پناه غواړم چې هسې نه دا عارضي مزه ما او تاسو ټول د دوزخ ژورو کندو ته غوځار نه کړي لهٰذا هم په سندرو سازونو ختمولو کښې عافیت دے. که چرې څوک پخپله نه شئ پوهه کولے نو د خپل موبائل فون په ذریعه د دعوتِ اِسلامي د ویب سائټ www.dawateislami.net نه دوه د سُنّتو ډک بیانونه ”گانے بجانے کی ہولناکیاں“ او ”T.V کی تباہ کاریاں“ ډاؤن لوډ کړئ او خپل کور والؤ ته یې واوروئ یا ورته د www.ilyasqadri.com په ذریعه د شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دامت برکاتهم العالیه مَدَني مذاکرے وښایئ او که دا ممکن نه وي نو بیا دا دوه بیانونه د رِسالې په شکل کښې د دعوتِ اِسلامي د مکتبة المدینه نه حاصل کړئ او کور والؤ ته یې واوروئ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! په کور کښې به دیني ماحول جوړ شي او کور والا به د سندرو سازونو د تباهۍ نه بچ شي.

یاد ساتئ! فلمونه ډرامې کتل او سندرې باجې اوریدل حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے، افسوس چې اوس خو فلمي سندرې لیکونکي او د سندر غاړي

دومره بے مُهارا شوي دي چې هغوئي پهٔ رَبِّ کائنات باندې هم اِعتراضونه شروع کړي دي. پهٔ خپلو دکانونو او هوټلو کښې د سندرو غږوونکو، پهٔ بسونو او ګاډو کښې د فلمي سندرو لګوونکو، پهٔ ودونو کښې د ریکارډنګ چلوونکو او پهٔ بسترو باندې د پرتو ګاؤنډیانو مریضانو او د نیکو ګاؤنډیانو ازارونکو او بغیر د سوچ نه د ځان سره د سندرو ویونکو د پاره د فِکر موقع ده. لږ سوچ خو وکړئ چې پهٔ فلمي سندرو کښې شیطان کوم زهر اچولي دي! او د خلقو د همیشه همیشه د پاره د دوزخي جوړولو او وور ته د غورځولو د پاره یې خومره پهٔچالاکۍ او مَکر سره د ساز او اواز د جادو جال خور کړے دے. (گانے باجے کے 35 کفریہ اشعار، ص:11-12)

## ایمان برباد شو

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! یاد ساتئ! قَطعي طور د کُفر یو شعر که هم چا پهٔ خوښه ووئیلو، وا یې وررولو یا یې د سندرې پهٔ شکل کښې ووئیلو نو هغهٔ پهٔ کفر کښې اخته شو او د اِسلام نه خارج شو او کافِر او مُرتَد شو، د هغهٔ ټول اعمال تباه شول یعنې مخکښیني ټول نـمونځونه، روژې، حجونه وغیره ټولې نیکۍ یې ضائع شوې. که واده یې کړے وي نو نکاح یې هم ماته شوه که د چا مُرید وو نو بیعت یې هم ختم شو. پهٔ هغهٔ باندې فرض دي چې پهٔ ءغه شِعر کښې چې کوم کُفر دے د هغې نه فوراً توبه کړي او کلمه ووائي او د نوي سَر نه مسلمان شي. که مُرید جوړیدل غواړي نو بیا دې د نوي سَر نه پهٔ جامعو شرطونو باندې د کامِل پیر مُرید جوړ شي که چرې مخکښینۍ ښځه ساتل غواړي نو بیا دې د هغې سره د نوي مَهر سره بیا نِکاح وکړي. چې د چا دا شک وي چې ما به داسې قِسمه شِعر پهٔ خوښه وئیلے، اوررولے وي یا زما د فلمي سندرو اوریدو او د ځان سره د وئیلو عادت دے نو داسې کَس دې هم احتیاطاً توبه کړي او د نوي سر نه دې مسلمان شي، تجدیدِ بیعت

او تجدیدِ نکاح دې وکړي چې په دې کښې د دواړو جهانونو خیر دے.

(کفریہ کلمات کے بارے میں سوال وجواب، ص:524)

(د کفریه سندرو سازونو او د هغې نه د توبه کولو د معلوماتو حاصلولو د پاره د شیخِ طریقت، امیرِ اهلسُنَّت دامت برکاتهم العالیه رساله "گانے باجے کے 35 کفریہ اشعار" ولولئ.)

ایمان پہ ربِّ رحمت، دے دے تو اِستقامت دیتاہوں واسِطہ میں تجھ کو تیرے نبی کا

(وسائلِ بخشش، ص:178)

## پته نه لګي چې زمونږه خاتِمه به څنګه وي!

په یو اوږد حدیثِ پاک کښې د مدینے منورې سرکار، د مکے مکرمې سردار صلّی الله علیه واٰله وسلّم اِرشاد فرمائیلے دے: د آدم [علیه السّلام] اَولاد په مختلفو طبقو پیدا کړے شو په دوئي کښې بعضې مومِنان پیدا شول د ایمان په حالت باندې ژوندې پاتې شول او هم مومنان به مړه کیږي، بعضې کافِران پیدا شول د کُفر په حالت کښې ژوندي پاتې شول او هم کافِران به مړه کیږي خو بعضې مومِنان پیدا شول د مومنانو ژوند یې تیر کړو او د کُفر په حالت رُخصت شول او بعضې کافِران پیدا شول، کافِران ژوندي پاتې شول او د مومنانو کیدو سره به مړه کیږي.

(ترمذي، 81/4، حدیث: 2198)

## د رَشک قابل هغهٔ دے کوم چې په قبر کښې دننه مومِن دے

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! په دُنیا کښې په ژوند باندې مومِن پاتې کیدل یقیناً چې د سعادت خبره ده خو دا سعادت په حقیقت کښې په هغه حالت کښې سعادت دے چې د دنیا نه د رخصتیدو په وخت هم ایمان سلامت پاتې شي. په خدائے مې دې قَسم وي چې د رَشک قابل هغهٔ دے کوم چې په قبر کښې دننه هم مومِن دے. آؤ جي! څوک چې د دُنیا نه په سلامت ایمان ورِلو کښې کامیاب شو هم هغه په حقیقي معنو کښې کامیاب دے او څوک چې جنّت بیامومي هم هغه بامُراده دے، په

4 سيپاره سورۂ اٰلِ عمران، آيت نمبر 185 کښې الله پاک ارشاد فرمائي:

فَمَنۡ زُحۡزِحَ عَنِ النَّارِ وَ اُدۡخِلَ الۡجَنَّةَ فَقَدۡ فَازَ ؕ

(پارہ: 4، سورۂ اٰلِ عمران: آیت: 185)

[مفہوم] ترجمۂ کنزُالعِرفان: نو څوک چې د وور نه بچ کړے شو او جَنَّت ته داخل کړے شو نو هغه کامياب شو، او د دُنيا ژوند خو صرف د دوکے سامان دے.

میرا نازک بدن جہنّم سے
از طفیلِ رضا بچا یارب
کردے جنّت میں تو جوار ان کا
اپنے عطّار کو عطا یارب

(وسائل بخشش، ص: 8180)


اِسلامي ورونړو له پکار دي چې هغوئي د دعوتِ اِسلامي د مَدَني قافلو مسافر جوړ شي او پۀ هفته واره د سنَّتو نه ډکه اجتماع کښې پۀ پابندۍ سره شرکت کوي. دغه شان دې اِسلامي خوئيندې هم د اِسلامي خوئيندو پۀ هفه واره د سُنَّتو نه ډکه اجتماع کښې شرکت کوي او د خپل کور نورو اِسلامي خوئيندو مثلاً مور بي بي او ورندار وغيره ته دې هم د شرکت کولو ترغيب ورکوي اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! د سندرو سازونو سره سره به د نورو ګناهونو نه هم د بچ کيدو ذهن جوړيږي او ډير برکتونه به حاصليږي.

## کۀ د سندرو اوريدو عادت وي نو څنګه ختميدے شي؟

(1): ټول سوشل ميډيا اکاؤنټس يعنې فيس بک، واټس ايپ، يوټيوب يا د ټوئيټر چې څومره هم اکاؤنټس او ميموري کارډز (Memory Cards) دي، د هغې نه او د کمپيوټر سسټم وغيره نه د سندرو او موسيقۍ ډيټا Delete (يعنې ختمه) کړئ. (2): د سندرو پۀ ځائے د تلاوت، نعت او د سنَّتو نه د ډکو بيانونو اوريدو ترکيب جوړ کړئ، پۀ دې کښې د دِين او دُنيا دواړو فائده ده. (3): چې څومره درنه کيدے شي د الله پاک ذِکر کوئ، د ذِکر او نعت خوانۍ پۀ اجتماعاتو کښې شرکت کوئ، د زړۀ نه به خِيرے لرې کيږي او رُوحانيت به نصيب کيږي. (4): روازنه کم از کم د 313 کَرَته دُرُودِ پاک

لوستلو معمول جوړ کړئ، د ګناه نه د بچ کيدو طاقت به نصيب کيږي. (5): د سندرو سازونو شوق لرونکو ملګرو دوستانو صحبت فوراً پريږدئ او د ذِکر او نعت د شوق لرونکو عاشقانِ رسول صحبت اختيار کړئ. (6): دا ذِهن جوړ کړئ چې نن که په غوږ معمولي شان درد هم راشي نو څومره تکليف وي نو خدائے دې نه کړي که د سندرو اوريدو په وجه سبا د قيامت په ورځ که زما په غوږونو کښې وِيلې شوې اوسپينه واچولے شوه نو زما به څهٔ حال وي؟ (7): د سندرو اوريدو جسماني نقصانونو ته هم نظر کوئ چې سندرې اوريدل په حقيقت کښې د خپل صحت سره دښمني ده. (8): د خپل ايمان فِکر کوئ چې هسې نه د سندرې اوريدو سره خدائے دې نه کړي ايمان برباد شي نو د دِين او دُنيا ذِلت او رسوائي به زمونږ نصيب شي.

د راتلوکې هفتې رساله





978-969-722-628-3
01082475



فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران، پرانی سبزی منڈی کراچی
UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net